جمهور رئیس اوباما د سپینی ماڼی په روژه ماتی کی

سپینه ماڼۍ
د مطبوعاتی سکرتر دفتر
د کال ۲۰۱۱ د ګاګست ۱۰

د جمهور رئیس وینا د روژه ماتی په میلمستیا کی

ختیځه کوټه
د شپی ۸ بجی او ۳۵ دقیقی

جمهور رئیس: مننه. ډیره مننه کور مو ودان. (چکچکی). تاسی ټول لطفاً کښینی، لطفاً کښینی.

شپه مو ښه، ټول، او سپینی ماڼی ته ښه راغلی. نن شپه د هغی ډیری شتمنی عنعنی یوه برخه ده چه د دی سپیڅلی میاشتی د تجلیل لپاره ټول د مختلفو ادیانو خلک چه زمونږ د ملک تنوع ښیی راغونډیږی. نو دغه د امریکائیانو ذاتی لمانځنه ده -- چه د مختلفو ادیانو خلک په ډیر تواضع سره راغونډیږی او خپل مکلفیتونه د یو بل په وړاندی څرګندوی، دا ځکه چه بی لدینه چه مونږ څوک یواو د کوم ځای نه راغلی یو، یا څنګګه عبادت کوو، مونږ ټول د یوه خدای اولاد یو.

اوس، سږ کال، روژه ټوله په یوی میاشتی، ګګاګست، کی ده. معنی دا چه ورځی ډیری اوږدی دی، او ګګرمی ډیره ده او تاسی هم وږی استی. (خندا.) نو زه به مختصر وغږیږم.

زه غواړم چه د دپلوماتیکی ټولنی غړو ته چه دلته دی؛ د کانګګرس غړو ته پشمول د دوه تنه مسلمان امریکائیانو د کانګګرس غړو -- کیت الیسن او اندری کارسن ګګ؛ او زما د حکومت او اداری ټولو مشرانواو مامورینو ته هرکلی ووایم. ستاسو ټولو کور دی ودان وی چه دلته راغلی. لطفاً هغوی ته تودی چکچکی وکړی (چکچکی).

په متحده ایالاتو کی میلیونو امریکائی مسلمانانو ته – او څه باندی یو میلیارد مسلمانانو ته چه د نړی په ګګوټ ګګوټ کی اوسیږی، دغه میاشت د تفکر او عبادت میاشت ده. دا موقع ده چه کورنۍ او ګملګرو سره یو ځای کیږی او د خپل دین د تنوع او عدالت او د ټول بشر د انسانی کرامت ساتنی ته د دین ژمنه لمانځی. نو تاسی او ستاسو کورنیو ته روژه مبارکه.

نن شپه مونږ ته، د یوه لوی دین تعلیمات او د یوه لوی ملت تحمل او قوت رایادوی. د ډیرو دینونو په څیر، اسلام تل د امریکا د کورنی یوه برخه وه او مسلمانه امریکائیانو د ډیر وخت راهیسی د ژوند په هره برخه کی، زمونږ د ملک په قوت او تشخصاتو کی ونډه اخیستی ده. او په تیرو لس کلونو کی هم همداسی وه.

په یوی میاشتی کی، به مونږ د هغو وهمناکه حملو لسمه کالیزه لمانځو چه زمونږ زړونو ته یی درد او غم راوړ. دا به د هغو ټولو خلکو لمانځنه وی چه د لاسه مو ورکړل، کورنی ئی چه د هغوی میراث ژوندی ساتی، هغه قهرمانان چه په هغه ورځ یی د خلکو ژغورنی ته ورمنډه کړه او ټول هغه نور خلک چه دا لس

کاله يې زمونږ د محفوظ ساتلو لپاره کار کړيدی. او نن شپه، دا ټکی د يادولو وړ دی چه د غيرتمندو او وطن پاله مسلمانه امريکائيانو په شمول دغه امريکائيان د مختلفو دينونو او سوابقو لرونکی خلک وو.

مسلمان امريکائيان د هغو الوتکو بيګناه سورلی وی، پشمول د يوی ځوانی جوړی ګچه تازه يې واده کړی وو او د خپل لومړی اولاد په تمه وو. هغوی چه په دوه غبرګه برجونو کی کار کاوه – زيږنده امريکائيان او هغه چه امريکائی تابعيت يې په خپله خوښه اخيستی، مهاجر چه د سمندرونونه اوښتی دی تر څو خپلو بچيانو ته ښه ژوند ورکړی. هغوی آشپزان، او د رستورانونو کارکونکی، تحليلوونکي او رئيسان وو.

هلته، په برجونو کی يې کار کاوه، او هره ورځ به د لمانځه، ډوډی او افطار لپاره سره يو ځای کيدل. هغوی آينده ته اميدواره وو-- واده کولو ته، پوهنتون ته د خپلو اولادونو استولو ته، اوتقاعد ته چه مستحق يې وو. او هغوی ټول زمونږ نه ډير زر واخيستل شول. نن ورځ، هغوی د خپلو کورنيو په زړونو او داسی ملک په زړه کی ژوندی دی چه هيڅ کله به يې هير نکړی. او نن شپه، مونږ وياړو چه د سپتمبر د يولسمی ځينی کورنی دلته مونږ سره دی. او زه تری غواړم چه ودريږی چه مونږ ټول يې ووينو. (چکچکی)

مسلمان امريکائيان لومړی خلک و چه د ژغورنی هڅو ته ئی مخه کړه -- پخوانی د پوليسو منصبدار چه مرستی ته يې ورودانګل، او کله چه برج راولويد نو پکی ورک شو؛ د اطفائی عمله چه ډير خلک يې وژغورل؛ نرسه چه د ډيرو زخميانو پالنه يې وکړه، او په پنټاګان کی د سمندری قواوو منصبدار چه اور ته يې منډه کړه تر څو زخميان راوباسی. پدی لسمی کاليزی کی، مونږ د ټولو دی نارينو او ښځو لمانځنه کوو – دا ټول امريکائی قهرمانان دی.

دا ورځی هم بايد له ياده ونه باسو چه په تيرو لسو کلونو کی هر ورځ امريکائی مسلمانانو، د ټولنود پوليسو او د اور وژنی د عملی د حفاظت چارو کی مرسته کړی، د هغو په ګډون چه نن شپه دلته مونږ سره دی. زمونږ په فدرالی حکومت کی، هغوی زمونږ د وطن کورنی امنيت ساتی، هغوی زمونږ استخبارات او د تيروريزم سره د مقابلی په چارو کی مرسته کوی او هغوی زمونږ مدنی حقوق او د ټولو امريکائيانو مدنی آزادی په ځای ساتی. نو هير مو نه شی، مسلمان امريکائيان زمونږ د محفوظ او مصون ساتلو سره مرسته کوی.

مونږ دا جذبه په خپلو نارينه او ښځينه يونيفورم اغوستونکی عسکرو کی وينو، د زرګونو مسلمانانو په ګډون. د جنګ په وخت کی هغوی په خپله خوښه خدمت ته راغلل سره لدی چه پوهيدل چه خطر ته وردانګی. زمونږ عسکر د ملک د هری ګوښی نه راغلی دی، مختلف سوابق او مختلف عقايد لری. خو هره ورځ يو بل سره لا ډير نزدی کيږی او په ګډه کاميابيږی د يوه واحد امريکائی ټيم په څير.

د لس کلونو ډير سخت جنګ په دوران کی، زمونږ عسکر په ميړانه او په عزت وجنګيدل. ځينو غټه قربانی ورکړی او سرونه يې بايلل، په هغو کی يو تن کريم خان وو. کريم خان چه د سپتمبر د يولسمی پيښو ډير غمجن کړی وو، د ملک په خدمت کی يې خپل سر په عراق کی ورکړ او اوس د ارلينګټن په اديری کی د نورو قهرمانانو تر خوا ښخ دی. او مونږ د کريم د مور، ال شيبی، نه مننه کوو چه نن شپه دلته راغلی ده. (چکچکی). د کريم په څير د هغه نسل په تاريخ کی خپل ځای ونيوه. او زه د ټولو هغو عسکرو نه – د سپتمبر د يوولسمی نسل نه -- چه نن شپه دلته دی غواړم ودريږی او د خپلو وطنواله امريکائيانو قدرادنی ومنی. (چکچکی)

سرکال او هر کال مونږ باید د ځان نه وپوښتو چه: د خپلو دغو وطن پالو هغو چه سرونه یی په خپلی خاوری بایللی، قدر څرنګه وکړو؟ د یادونی پدی وخت، جواب هماغه دی چه پدی تیرو لس کلونو کی وو. مونږ باید داسی امریکائیان اوسو چه هغوی ورته سرونه قربان کړل، او ورته مړه شول.

داسی امریکا چه نه یوازی د مختلفو دینونواوعقایدو او سوابقو خلک زغمی بلکه داسی امریکا چه د خپلی دغی تنوع نه شتمنه کیږی. داسی امریکا چه یو بل سره په درناوی اواحترام او په کرامت او عزت چلند کوی، او دا خبره نه هیروی چه دلته په متحده ایالاتو کی "هغوی" او "مونږ" نه شته؛ فقط "مونږ" یو. داسی امریکا چه اساسی آزادی او نه بیلیدونکی حقوق پکی نه یوازی دا چه ساتل کیږی بلکه مدام تازه او تجدیدیږی – او په هغو کی د هر انسان دا حق هم شامل دی چه څنګه چه غواړی هغسی عبادت کولی شی. داسی امریکا چه د ټولی نړی د خلکو د عزت او حقوقو درناوی او دفاع کوی که هغه د مینځنی ختیځ او شمالی افریقا ځوانان وی چه د آزادی په لټه کی دی او که د افریقا په وچه کی یو وړی ماشوم وی، چه مونږ د هغوی د ژوند د ژغورلو لپاره کار کوو.

په ساده الفاظو کی چه ووایم، مونږ باید داسی امریکا اوسو چه د یوی واحدی کورنی په څیر په مخه روانه ده، او د هغو نسلونو په څیر چه زمونږ نه مخکی تیر شویدی، په سختو ورځو کی ټول سره یو شو په خپلو ارزښتونو ودریږو او لا پسی قوی او غښتلی شو. مونږ همداسی خلک یو او تل باید هم داسی اوسو.

نن شپه، چه مونږ یوی غمجنی کالیزی ته ورنزدی کیږو، زه تصور نه شم کولی چه ددینه به بهتره آرزو خپل ملک ته ولرم. نو خدای دی تاسی ټول وبخښی او خدای دی د امریکا متحده ایالات وبخښی.
(چکچکی)

پای د شپی ۸ بجی او ۴۳ دقیقی

جمهور رئیس اوباما په سپینی مانی کی د روژه ماتی میلمنو ته هر کلی وائی

.